**د مقالي ليکونکی :** پا تريک کوک بورن (Patrick Cockburn).
**منبع او دخپريدو نيټه :** کونتر پنچ «۲۰۱۶-۱۰-۱۷» .
**ژباړونکی :** پوهندوي دوکتور سيدحسام «مل» .

---

# داعش(ISIS) د متحده ايالاتو دمتحد ينوڅخه خپل مالي مرستي ترلاسه کوي( هيلاری له ډير پخواڅخه په دي موضوع باندي پوهيده )

## US Allies are funding ISIS ( and Hillary knew all Along )

دا دسعودي عربستان اودقطردهيوادونو دپاره دنيکمرغي ځای دي کوم چي **دونالد ترومپ** دجنسی لوبي درسوا کيد و له امله د نوموړي هيوادونو په هکله هغه د اوږدي مودي خبګان چي دهيلاری کلنتون دوروستيو ايملونو يوه برخه دباندي افشا شوی وه له پا مه وغورځول او ډيری خلکو **دونالد ترومپ** د جنسی لوبی په لوري پام واړول بايد وويل شي چي دهيلاري دايملونو دافشا له جملي څخه يوه ايمل چي ډير دپام وړ بلل کيږی هغه ايمل دی چي دامريکي دمتحده ايالاتو د با ند ني وزارت داګست د مياشتی (۱۴) کال (۲۰۱۴) يوه ياداشت اويا غير رسمی تذ کر دی چي په هغه کي د امريکي دنوموړی مقام د يوه سوال په ترڅ کی داسی ځواب يا غبرګون ښي او هغه دا چي دداعش ځواکونه د ډير چټک پرمختګ په لاره کی دي چي زر به دعراق له شما ل څخه دسوريي تر ختيځ پوری ټول خندونه به له خپل لاری څخه ليری او جارو کړی .

په هغه وخت کي دامريکي متحده ايالات نه غوښتل اويا نه منل چي سعودی عربستان اودهغه سره تړلي سني متحدين د داعش (ISIS) اودالقاعدی په شان غورځنګونو اوټلو ټپلوسره مرسته وکړي اما په دغه ياداشت يا ايمل کي هغه څه چي دباندي افشا شو داسی راغلي دي : هغه څه چي دغربی استخباراتو ،امريکا يي استخباراتو اود سيمي له خبری سرچينو اومنابعو څخه تر لاسه شوي داسي را ښيي يا څرګندوی چي دلته کوم متناقض چلند په مينځ کی نشته چي څوک د داعش (ISIS) څخه ملاتړ کوي د بلی خوا څخه په ياد بايد وساتو کوم چي ددی ايمل دليکلو په وخت کي پر يزيدي کليوالو با ندي تيري او زانيول شوي يا برمته شوي عراقي اوسوريي سربازانو په ډله ايز بني سره ووژل شو.

همدا شان په دي ياداشت اويا ايمل کي داسي ياده شوي چي مونږ د خپل نيا ز او د ضرورت په نظرکي نيولو سره د خپل دوديز اطلاعا تی او ديپلوماتيکی چلند په مرسته سره پر سعودی عربستان اود قطر پر دولتونو مو فشار واچول چی د **داعش** اود سيمي

د نورو ورته راديکال اوافراطي ډلو اوګروپونو سره مالی او لوژيستکي مرستی تر سره کړي کوم چي دغه هدا يت او امر مونږ ته د امريکی د متحده اياالاتو ددولت لوړ پوړي چاروکي را ليږلی وه خو اما هيڅلکه هم په څرګند بنی سره اعتراف نه وه ترسره شوی اوهغه هم په دي دليل نه چي د سعودی عربستا ن په وړاندی د خليج ځيني هيوادونه اوشاهي حکومتونه ، ترکيه اوپاکستان ښکاره دښمن شی کوم چي بيا په هغه صورت کی دامريکی دمتحده اياالاتونفوذ اوقدرت ته په مينځنی ختيځ او جنوبی آسيا کی بی د ستر ضربه وهل نه به بل شي نه وي .

د امريکی د متحده اياالاتو د دولت رسمي مقا ما ت (9/11) د پيښيی څخه وروسته ديوي اوږدي مودي دپاره دخپل سني متحد ينو سره له مخا مخ کيد و اوتقا بل څخه ډډه وکړ اوهغه هم په دي مفهوم چي ځان ډاډه کړی چي د **«تروريزم په ضد جګړه کي »** په پريکينډه بنی دما تي سره مخا مخ نشي . بی ويلو دی پاتي نشي چي د بلي خوا څخه (۱۵) کاله وروسته دالقاعدي سازمان په مختلفو شکلو نو سره دکتي د ترلاسه کولو له نظره ډير قوي او ځواکمن شوی دي اوهغه ځکه چي موازي حکومتونه د هغه څخه خپل ملاتړ اعلان کړي دي که نه هيڅکله را ژوندي اوفعال نه پاتي کيدل ، لکه هغسي چي په وړيا توګه سره د ژوندي پا تي کيدو چا نس تر لاسه کړ .

او دهمدي اصل په نظر کي نيولو سره که چيري «هيلاری» دامريکي د متحده اياالاتو د با ند نيو چارو د وزير په توګه تاکل شوي نه وايی او يا هغه که چيري د امريکي په خارجي سيا ست با ندي بشپړ بلد تيا نه درلوداي نو په هغه صورت کي به څه را مينځته کيد ل ؟ لکه هغسي چي ويکي ليکس دامريکي د متحده اياالاتو د اګست د مياشتي کال (۲۰۰۹) کي يوه کبل (ايمل) چي د هيلاری له طرفه سعودی عربستان ته ليږل شوی دی افشا کړچي په دي ايمل کي داسی توضيح شوی: سعودی عربستان دالقاعدی طا لبا نو او په پاکستان کی دلشکر طيبه دغورځنګونو دپا ره په يوه ثابت مرستند وی منبع باندي با قي پاتي شوي دي اما دعربستان سعودي دمرستو پيچلتيا هيڅکله هم په امريکي کي ددغه سازما نونو اوغورځنګونو سره ديوسياسی مرکزي موضوع په بڼه منل شوي نه دي اودا ولي نه ؟

ددی پوښتني ځواب دادي چي دامريکی دمتحده اياالاتو چا رواکي دا سي نه انګيرل چي که دخپل سني مذهبو متحد ينو سره د اړيکو په پری کيد وسره ګټی به دلاسه ورکړی اويا داچي پوره ډاډ من نه وه چي خپل يوزيا ت مقدارمنا بع به دلاسه ورکړي نوپه همدی بنيا د سره هغوی د سازښکا ر خبرياالنو ، پوها نو اوسيا ستوالو سره په ګډه دي ته حاضرشو چي دعربستتان له موقف اوله دريځ څخه په پټ اوپه ظاهر کي ملاتړ وکړي .

بی ويلو دي پاتي نشي چي د سپيني ما نيي دلوړ پوړو چارواکو اودامريکی دمتحده اياالاتو دباندنيو چارو دوزارت دکارپوهانو واقعی او ريښتني نظر اوانګيرنه دوره ای اومقطعی ګټني او ملاحظات دي او هغه څه چي دوي وايي نو بيا زر هغه نظر او ا يده

له خپل یا ده با سي  مثلاً دبیلګي په بڼه : د دی روان کال په اوایلو کي **جفری ګولډ برګ** (Jeffery Gold berg) داتلانتیک په نشریه کي له هغه نه چي د**بارک اوباما** سره څو ځلی مرکی اومصاحبي تر سره کړی وه داسي لیکي : چي ما له «اوباما» څخه داسی یوډیر سخت اوشد ید پوښتنه و کړ – او هغه داچي د امریکي د متحده ایالاتو عربي سنی مذ هب متحدین دامریکي د ضد تروریزم په ترویج کي د محرک په پڼه لوبي تر سره کوي ؟ (اوباما) خما ددي پوښتنی په ځواب کي په ډیر څرګند تهیجی بڼی سره داسي توضیح کړ : چي دامریکي ارتد کسی خارجي سیا ست ما مجبوروی چي د خپل متحد سعودی عربستان ددرملنی په لټه کی اووځم .

دا داهمیت اود ارزش له پلوه دیا د ونی وړ مطلب دي او هغه داچي په واشنګټن کي دغه خارجي ارتد وکسي پا لیسي څنګه رامینځته شو اوڅنګه په ډیر آسا نی سره دهغه د نفوذ لمن پراخه شو- **ګولډبرګ** په دي اړه خپل نظردیوراپور په بڼه داسي په ګوته کوي :« دسپیني ماڼي په د ننه کي په پراخه بڼی سره داسی یو احسا س وجود لری چي په واشنګټن کي دترټولو مشهور بهرنی پالیسي څیړونکی ماهران د تنویری اتاقونو غړی دي چي دخپل عربی اواسرایلی ملګرو د پاره په دواطلبا نه بڼی سره ما لي مرستي تا مینوی – ما ددولت دیو لوړپوړي مقام څخه د ماساچوست (Massachusets )دکوڅی په اړه داسي اوریدلي چي دغه کو څه کي کوم چي د«عربو د قلمرو» تر ولکی لاندی خاوره ورته نوم ورکړ شوي ، دی محل کي ددغه تنویری اتاقونو دغړو کورونه موقیعت لري .

له دي سره سره تلویزیوني اوورځپانیزی خپلوی مرکه کونکي کارپوهان اوماهران له همدغه ورته تنویری اتاقونو څخه په قصدی بڼی سره دداعش ، سوریه ، سعودی عرب اودخلیج دهیوادونو دروانو حالاتوڅخه سترګي پټوي اویا داچي په خوشحا لي سره دخپل ګوندي خواخوږي د نه پا ملرنی اودبی توجهي پا لیسي دخپله کړي دي .

د «هیلاریي کلنټون» داګست دمیاشتي کال (۲۰۱۴) ایمل کي داسي په ډاګه شوی دي چي سعودی عربستان اود قطر دولت دداعش مالی لګښتونه تا مینوی اما خو دا د نن ورځی دژورنالیستیکي او اکادیمکی اصولو له نظر یونا سم چلند دي او اوس دهغه په بدیل او عوض کي دلته داسي ادعا کیږي چي دخلافت دتازه اعلامي پر بنیاد ، داعش خپل ټول ما لي مصارفات د تیلو او دلرغوني اثارو دخرڅلاو څخه تر لاسه کوي اما دغه ادعا د جبهته النصر په اړه کوم چي هغه غورځنګ دتیلو پر کوم منبع باندي ولکه نه لری صدق نه کوي اود لته همدارنګه داسي نا باوری هم تر سترګو کیږی چي دداعش د غورځنګ خود کفا یي هم لرزان او ثا بت نه دي .

عراقي اوکردي مشرانو ددغه پورتني ذکر شوي ادعا په یو کلمه باندي هم با ور نه لري هسي چي په خصوصي اوشخصي بڼی سره ادعا کیږی چي داعشیا ن دخلیج هغه

هیوادونه کوم چي ددوي تر ولکي لاندي دي دخپل هیوادونو په د ننه کي تر هغه چي داعشیانو ته پیسی ورنکړی تر سخت ګواښ اوخشونت لاندی نیول کیږي نو په دی اړه عراقی او کردی رسمي مقا مات د دی ادعا لا سپینا وی نه دی کړي اما نا شونی په نظر راځي چي مردان (نارینه) لکه د داعیشیا نو د سخت بی رحمو رهبران په شا ن د خلیج تر ولکی لاندی د هیوادونو له غریبو خلکو ، دوکا ندارانو اود موټرو د تګ اوراتګ څخه ما لیه تر لاسه نکړی اوپه تیر بیا د خلیج دهیوادونو د نفت دتولیدکونکو له افسا نوی ثروت او دهغه هیوادونو له رسمي او خصوصیي نفت اخراجونکي بسپنه ورکونکي څخه غټی پیسی ترلاسه نکړي .

دترلاسه شوي ایمل څخه کوم چي دهغه محتوي دباندي افشا شوي دي ، دامریکی دمتحده ایالاتو دباندني چارو وزارت اودهغه هیواد داطلاعاتي اداري دوضاحت په نظر کي نیولو سره دلته نور نو دهیڅ شک اودشبهي ځای نه پا تي کیږي چي دداعش ما لي بودجه دسعودي عربستان اودقطر ددولت له طرفه تامین ونشي - اما د بلي خوا څخه هغه نظر چي (بارک اوباما) د سعودی عربستا ن اودخلیج دهیوادونو په هکله لري له هغه څه نه چي عا مه خلکونظر لري چندان انطباق نه سره لري یعنی دغه دواړه لړ لید سره عجیب اوغریب نا اړوند او نا پیوستګي لري . لکه هغسي چي دامریکي د متحده ایالاتو دجمهور ریس مرستیال ښاغلي «**جو با ید ن**»داکتوبر په میاشت کال (۲۰۱۴) کی دهاردورد په پوهنتون کي د هغه پوهنتون د محصلینو په وړاندي پخپل بوپرانیستي وینا کی داسي وویل : سعودی عربستان ، ترکیه اود متحده عرب اما رات پخپلو کی سره پریکه کړي دي چي **بشرالاسد** باید له قد رته رانسکور شي او همدارنګه هغه دخپل وینا په دوام کي زیا ته کړ چي په سوریه کي دغه روانه جګړه د سني مذهبو اود شیعه مذهبو دفرقو تر مینځ یوه جګړه دي او هغه څه چي مونږ غواړو هغه دا دي چي مونږ په سلونو میلیون ډالر اوپه زرونو ټن سلاح دهغه خلکو او ډلو په اختیار کي اچو چي **دبشر الاسد** په مقابل کي په جنګ او په جګړه لاس پوری کړي برخیره پرهغو کوم چي د نړی له نورو برخو څخه دلته سوریي ته راغلي دی اودجبهه النصر – القاعده اودنورو افراطي ډلو په لیکو کي ځاي پر ځاي شوي اود **اسد** په مقابل کي جنګیږي – ښاغلی **بایډن** په ډیر استکبا ر او تمسخر سره وویل چي د لته یعني په سوریه کي (مینځ لاری ډ لی ) ددی توان او قدرت لري چي د **داعش** اود **اسد** په وړاند په عین وخت کي وجنګیږی اوخپل سلاح په ځمکه کښینیږدي.

هیلاری کلنتون په هغه کلونو کی چي دي دامریکي دمتحده ایالاتو دباندنیو چارو وزیر وه دخپل کمزوری خارجي سیاست په پلی کولو کي اکثراً دما تی سره مخا مخ وه یعنی په هغه وخت کی د امریکي با ند نی سیاست کوم چي هیلاری دهغه سیا ست متصدی وه ډیر آسیب پذیر ( ژوبلیدونکي ) وه کوم چي دهغي دنا رسا یي اود نا پختګي سیا ست له جملی څخه یو هم د **دونالد ترومپ** عوام فریب د یولړسوالونوپه مقا بل کي لا تر اوسه

چپه خوله ناست دي لکه په کال «۲۰۱۲» د امریکي د سفیر قتل په بنغازی کي ، او له عراق څخه په کال (۲۰۱۱) کي دټولو امریکا یي سرتیرو بشپړ وتنه – دا هغه سوالونو دی چي هیلاری دهغه په ځواب کي پا تي راغلي چي داپخپله دهغه عدم کفا یه او نا رسا یي ښیي.

که چیري «هیلاری کلنتون » دامریکي جمهور ریس شی نوداسي انګیرل کیږی چي دهغه دوستي به د سعودی عربستان سره ډیر نژدی شي حال داچي په دي اواخرو کي مونږ ولید چي د امریکي د دولت نوی نظر او نګرش دسعودی عربستان په وړاندي لړزان اود ترینګلي په حا لت کي دي مثلاً د بیلګي په توګه او هغه دا چي د (۹/۱۱) د پیښی دقربا نیانو دکورنیو شکایت دسعود عربستان څخه دي کوم چی دهغه ا تباع په دغه نا ورین کی لاس درلود دامریکي دکا نګرس څخه غوښتنه وکړل چي دامریکی د متحده ایالاتو دجمهور ریس څخه په دي مورد کي ویتو سلب کړی یعنی هغه ته اجازه ورنکړی چي دعربستان سعودی د دولت په وړاندي اغماض وکړي .

بله موضوع کوم چي دامریکي دمتحده ایالاتو ادعربستان سعودی ترمینځ روابط یو څه ترینګلي کړي دي هغه د عربستا ن سعودي د دولت اود هغه د سني متحد ینو ترمینځ دراوبطو تضعیف کیدل دي مثلاً د بیلګي په بڼه د قطر د دولت اود سعودی عربستا ن د ددولتونو ترمینځ په نړي کي د اهل تسنن د سرمشري په اړه دنظر تفاوت را مینځته شوي چي هریو د دوي غواړي چي د نړی د اهل تسنن رهبري په لاس کي ولري اما د دغه اختلاف لړي لا تر اوسه د موصل اود ختیځي حلب په هکله چي دغه دواړه ښارونه تر سخت حملي لاندي ذپریوتي او د دي امکا ن وړل کي چي ممکن دغه دواړه ښارونه سقوط وکړی ددوي یعنی دقطر اود سعودی عربستا ن دغه اختلاف لاتراوسه نه دي افشا شوی اوداځکه که چیري دغه ښارونه سقوط وکړي ممکن چي عراقي اوسوري سني مذهبو ته ستروتا وان ورسیږي اود هغه نا کا مي پخپله یا ددي ښارونو سقوط ممکن دي چي دامریکي د متحده ایالاتو اودراتلونکي سني مذهبو دولتونو روابطو ته به نوی شکل او فورم ورکړي چي لا تر اوسه نه دي معلوم چي څه به وشي ؟

------------------------------------ **به درنا وی ۲۰۱۶-۱۰-۲۰**